# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# شهزاده شپون شو


لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.






یوه ورځ موسی یو مصرے ولیدو چې عبرانے غلام یې وهلو. حالانکې د موسی تربیت او پالنه هم د فرعون په محل کښې لکه د یو شهزاده په شان شوے وو. خو بیا هم هغه یو عبرانے وو او هغهٔ د غلام مدد کول غوښتل.

3

موسی ځلورو واړو طرفونه ته وکتل چې څوک هغه وينی
خو نه، او د غلامانو په هغه ظالم مشر يې حمله وکړه. په
هغه جنګ کښې موسی هغه مصرے مشر ووژلو او موسی
زر تر زره هغه دفن کړو.



4

په بله ورځ موسی دوه عبرانيان په خپلو کښې په جګړه
وليدل. هغهٔ د هغوئ د خلاصولو کوشش وکړو. په هغوئ
کښې يو ووئيل، ولې تهٔ به ما هم د هغه مصری په شان څوک
چې تا وژلے دے. وژنې څهٔ؟ موسی ويرېدو، او څهٔ چې هغهٔ
کړی وو نو د هغې په باره کښې ټولو ته پته ولګېده. فرعون
هم د دې نه خبر
شو. اوس موسی له
د هغه ځائ نه تښتېدل وو.
هغه د ميديانيانو
ملک
ته لاړ.



5

کله چې موسی د کوهی په خوا کښې آرام کولو، نو د ميديان
د امام اووهٔ لوڼو راغلې چې خپلو ګډو او چېلو د پاره يې
ترې نه ښانکونه ډک کړل.



6

نورو شپونکو د هغوئ د وروسته کولو کوشش وکړو.
موسی د هغه جينکو مدد او ساتنه وکړه.



7

د جينکو پلار د هغوئ نه تپوس
وکړو. تاسو نن دومره زر کور ته
واپس ولې راغلئ. کله چې هغه
جينکو پلار ته ټوله خبره
وکړه نو د هغوئ پلار
ووئيل هغه سړے دلته
ما خواته راولئ چا
چې ستاسو مدد وکړو.



8

موسی هلته په تلو ته راضی
او هغه سړی ته به يترو هم وئيلے
کېدو. بيا وروسته موسی د هغهٔ
مشرې لور صفوره
سره وادهٔ وکړو.




په مصر کښې فرعون مړ شو. او
د خدائ پاک خلق عبرانیان له تر
اوسه پورې غلامان وو. او هغوئ
ډېر زيات خفه وو او فرياد يې
کولو.
او هغوئ
مالک خدائ نه د مدد د پاره
دعا وغوښتله. او خدائ پاک
د هغوئ دعا واورېدله.
9


موسی نهٔ وو خبر خو خدائ پاک د هغه
غلامانو عبرانیانو د مدد د پاره منصوبه
جوړه کړه. څلوېښت کاله شوی وو چې
موسی مصر پرېښودے وو. د يترو
د رمو شپونکے وو. خو هغهٔ به په
مصر کښې خپل خلق يادول.
10


يوه ورځ موسی وليدل چې
هغې سره نزدې په يوه جاړې
باندې اور لګېدلے دے.
11


هغه ووئيل چې عجيبه خبره ده
چې اور سره جاړه ولې نهٔ سوزی.
موسی د دې معلوملو کوشش وکړه
چې دا ولې داسې کيږی.
12


کله چې هغه نزدې ورغلو. نو خدائ پاک هغهٔ له آواز
ورکړو، موسی ووئيل مالکه زهٔ حاضر يم. خدائ پاک هغهٔ
ته ووئيل چې جاړې له نزدې مهٔ ورځه. او خپلې څپلۍ
وباسه ځکه کوم ځائ چې تهٔ ولاړ يې نو دا پاک دے.
13


خدائ پاک هغهٔ ته وفرمائيل چې زهٔ مصر ته
فرعون خواته ليږم چې تهٔ خپل خلق د مصر
نه راوباسې. خو موسی
هلته تلو نه وېرېدو.
14


نو بیا خدایٔ پاک موسی ته خپل لویٔ طاقت
وښودلو. او د هغهٔ د موسی امسا په مار بدله کړه.
15


چې کله موسی هغه مار د لکۍ نه اوچت کړو نو هغې نه
بیا امسا جوړه شوه. او خدایٔ پاک هغهٔ له
یوه بله نښه هم ورکړه.
16


خدایٔ پاک هغهٔ له حکم ورکړو چې خپل لاس په خپله سینه
باندې کیږده. او موسی هم هغه شان وکړل. او د هغهٔ لاس د
څرمنی په بیماریٔ بدل شو. او
لکه د واورې په شان تک
سپین شو.
17


او چې کله هغهٔ دوباره داسې وکړل نو د هغهٔ
لاس واپس ټیک شو.
18


خو موسی ته تر اوسه پورې اعتراض وو. هغهٔ خدایٔ پاک
ته ووئیل، چې زهٔ صفا خبرې نهٔ شم کولے. خدایٔ پاک د
هغهٔ نه خفه شو او ورته یې ووئیل چې زهٔ به ستا ورور
هارون ستا د خبرو د پاره استعمال کړم.
19


موسی یترو خواته لاړو، او خپل سامان
یې وتړلو او د مصر ته روان شو.
20













شهزاده شپون شو

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

هجرت 2-5

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

25



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲